انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان


۱۷ اگست ۲۰۱۱

## کارګران کورونه جوړوي، خو په خپله کورونه نه لري

زموږ په هيواد کې دا يوازې کارګران، بزګران او په مجموعی ډول زيارکښان دي چې له ټولو ډير زحمت باسي، په هر کار اخته دي، کرهنيز محصولات کري، سرکونه جوړوي، کورونه آبادوي، د تفريح پارکونه ودانوي، د ښار پاککاري کوي، ويالي پاکوي، ډوډی پخوي، موټري چلوي، روغتونونو کې کار کوي، په بيلابيلو ادارو کې په ټيټو چوکيو دنده تر سره کوي او که چيری همدا زيارکښان يوه ورځ کار ونکړي نو ټول شيان به په ټپه ودريږي او ټولنه به له ډيرو ستونزو سره مخامخ شي.

که چيرې سهار وختي د افغانستان د لويو ښارونو څلور لاريو ته ووځو نه په زرګونو داسې کارګران به ووينو چې د کار په تمه ناست دي څو ورته کار پيدا شي. په دې کارګرانو کې د هر قوم او مليت کارګران شته، سپين ږيری کارګر او ځوان کارګر، ازبک کارګر او پښتون کارګر، هزاره او تاجک کارګر او ترکمن او پشه ای او نورستاني کارګر ټول سره يوځای په دوو پښو ناست دي څو يوځای کار ته ولاړ شي. اکثره دا کارګران د ساختماني برخې کارګران دي. دوی ځي چې په شيرپور، وزيراکبرخان، کارته سه او د کابل او د هيواد په نورو ولايتونو کې لوکس کورونه، غټ غټ بلډينګونه او لويې لويې ودانۍ، اپارتمانونه، هوټلونه او رستورانتونه جوړ کړي. څوک شګه چڼ کوي، څوک خښته راوړي، څوک سمټ جوړوي، څوک روزمزدي کوي او څوک هم استادکار دی. دا ټول په ګډه دا ښايسته او فيشني کورونه او اپارتمانونه جوړوي، قصرونه آبادوي، خو په خپله کورونه نلري. ځيني يې هغه مسافرين دي چې له نورو ولايتونو څخه کار ته راغلي او په هغو کنډوالو کې ژوند کوي چې دوی ورته کور او يا کوټه وايي.

دلته زموږ په هيواد کې څو شتمن مافيايي کسان، هره ورځ ځمکه په ارزانه بيه اخلي او ورباندې ښارګوټي جوړوي. يو شتمن ۲۰۰ او درې سوه او حتی زر اپارتمونه لري، هغه اپارتمانونه چې د همدې کارګرانو د لاس په تناکو آباد شوي دي. ځينې شتمن لسګونه ښارګوټي لري او په تلويزيونو کې يې د اعلاناتو يوه غوغا جوړه کړې ده. خو کارګران، وروسته له هغې چې دا کورونه او اپارتمانونه جوړوي، نور هيڅکله نشي کولای د دې کورونو په درشل پښه کيږدي. زموږ د کارګرانو کورونه د ډِه افغانان او قول آبچکان په شان سيمو کې او د غرونو په لمنو کې هغه

پراتې جونګړې دي چې ورباندې نشو کولای د کور نوم کیږدو. ډېری کارګران قطعاً کورونه نلري او شپه او ورځ په کرایي ارزان بیه کورونو پسي سرګردانه دي. همدا دلیل دی چې په  کابل کې خلک د متل په توګه وایي: نان گدا باش ولی خانه گدا نه!

دا ښکاره خبره ده تر هغې چې کارګران له یو بل سره لاس ورنکړي، یو کارګري پیوستون رامنځته نکړي او د ظلم او تیري څخه د خپل خلاصون لپاره کوښښ ونکړي، نو همیشه به د نورو لپاره کورونه آبادوي خو په خپله به کورونه ونلري. کارګران هغه وخت کولای شي خپل کورونه ولري چې د مزدورۍ کړۍ یې ماته کړې وي.